# معمولي سهو

**مم یوسفزی**

مشرانو څۀ پرېښي نۀ دي يوه خبره ئې دا هم کړې ده بلکې ګل جړې ئې ويشتي ده چې هوسې هسې هم په دؤ وه لا چې ګونګرو ئې ورته واچول. دا خبره ماته هيڅ بې هيڅه نۀ ده راياده شوې بلکې په دې راياده شوه چې دا ځل مونږ پاکستانيانو حسب معمول بيا دوه واړۀ اخترونه وکړل او ښۀ په نره مو وکړل او يواځې اخترونه نه بلکې په روژه نيولو کښې مو هم د خپل زوړ روايت مطابق خپلو کښې سره اختلاف وکړو.

زۀ د ګرانۍ او لوډشېډنګ د لاسه لکه د نورو پاکستاني عوامو دومره پوزې له راغلے يم چې سر ګرولو ته هم نۀ وزګارېږم او کۀ ماشي د بجلۍ د تلو نه تر راتلو پورې راته په غوږ کښې بنګېږي نو د شړلو هڅه ئې نۀ کوم ځکه چې محب وطن خو زۀ له خېره پېدائشي يم. زړۀ کښې وايم چې هر کله زمونږ د ملک د واکمنو دا خوښه ده چې مونږ په ماشو مات کړي نو مات مو دې کړي کنه. د ماشي د چيچلو نه کله څوک مړ شوے دے؟ وشوه ملېريا ده تېره به ئې کړو ځکه چې دې ملک کښې مونږ کومه سختته ده چې تېره نۀ کړه، دا بيله خبره چې لکه د چرګ مو هېر ډېر دي. لړه زمانه پس رانه دغه سختۍ او تکليفونه هېر شوي وي. عوامو ته د ملېريا لګېدو ډېرې فائدې شته لکه د يو غريب ډاکټر او د يو عاجز کېمسټ څۀ ګټه خو به وشي کنه. بل په دې خبره هم رسېدلے يم چې د عوامو د چغې مثال د خوار مُلا د بانګ دے چې څوک پرې کلمه نۀ وائي.

بخښنه غواړم خبره رانه بل خوا ځي اصل موضوع له به د راتلو کوشش وکړم. زمونږ د دهشت ګردۍ په دې ښکار وطن کښې خو دا مسئلې څۀ نوې خبره نۀ ده دا د ډېرې زمانې نه موجودې دي خو چې کله يو روشن خياله واکمن د پرائيوېټ ټي وي چېنلو اجازت ورکړو او شروع شو نو زمونږ دا مسئلې ئې يو په دوه کړې. د هغوي د فاضلو اېنکرانو په قول هغوي غواړي چې اصل حقائق وړاندې کړي او د پټو خبرو نه پړده پورته کړي او دا خپل فرض ګڼي. پکار ده چې مسئله چې څنګه وي هغسې بيان کړې شي په هغې خبرې وشي او د حل لارې ئې راووېستې شي هر څو کۀ دلته چرې داسې شوي نۀ دي خو بيا هم کوشش پکار دے.

دا پرائيوېټ چېنلونه چې د کله نه شروع شوي دي او زۀ ئې ګورم نو دوي په اور د تېلو اچولو کار ډېر کوي او خپله صحافتي فريضه کمه تر سره کوي. داسې واقعات او پېښې ډېرې بلکې د شمېره تېرې دي خو زۀ به د دې تېر وړوکي اختر خبرې له راشم.

زمونږ په دې ملک کښې د روېت هلال کمېټۍ په نوم يوه اداره سازه کړې شوې ده او د هغې ادارې برکت دے چې چرې مو په يوه ورځ روژه

او اختر ونۀ کړو. خو دا ځل چې په دې روایتي کار ځومره چغې سُورې جوړې کړې شوې او بیا پرې دغې الیکټرانک میډیا کوم تېل واچول نو هغه مخکښې چرته نۀ وو شوي.

ماته یاد دي چې آفتاب احمد خان شېرپاؤ د پښتونخوا وزیر اعلیٰ ؤ نو یو تن ورته ووې چې ملک کښې بې روزګاري ډېره شوې ده، بد امني ده، ګراني ده، حالات ډېر خراب شوي دي. د دې څۀ وجه ده؟ نو شېرپاؤ خان ورته ووې چې هیڅ هم نشته خو اخبارونه مۀ ګوره. خبر دا خو هسې په ښوروا کښې تیکه راغله.

د روېت هلال کمېټۍ غړي چې لوستونکي به ئې اکثر پېژني او کۀ ټول نۀ پېژني نو مولانا منیب الرحمٰن صاحب چې د دغې ادارې مشر دے هغه په دې خبرو دومره مشهور شوے دے چې لوئي واړۀ او نر ښځې ئې پېژني او دا ځل خو ئې دومره شهرت وشو چې کۀ چرې د دۀ په ځائے زۀ وي نو خامخا به راروانو انتخاباتو کښې الیکشن ته ودرېدلے وې. ودرېږم خو زۀ په هر الیکشن کښې خو د ووټ اچونکو په قطار کښې البته دا ځل به مې کۀ د قامي اسمبلۍ نۀ وې نو د صوبائي اسمبلۍ د ټکټ دپاره ضرور پښې لاس وهلي او یاران دوستان په سفارش مجبوره کړي وو.



معافي غواړم خبره رانه اوږده شوه. دې ملک کښې د پخوا نه د دې روېت هلال کمېټۍ نه علاوه په اکثرو لویو ښارونو کښې د عالمانو غېر سرکاري کمېټۍ جوړې دي او چې کوم خلق د روژې یا اختر میاشت ویني نو هغوي ترې شهادتونه اخلي او د دوي په وېنا روژه او اختر کولے شي. ماته یاد نۀ دي او ښۀ دي چې راته نۀ دي یاد ځکه چې بیا به مې هغې تن پسې هم څۀ وئیل چا چې دا روېت هلال کمېټي جوړه کړې وه. ځکه چې اول خو د دې جوړول پکار نۀ وو او کۀ فرض کړه د دې د دُور رس نتائجو او ثمراتو نه زۀ نۀ یم خبر او خامخا ئې جوړول ضروري ؤ نو بیا د دې د جوړولو سره سم دغه غېر سرکاري عالمان د شهادتونو اخستو نه منع کول پکار وو. داسې ولې نۀ دي شوي نو په دې به مولانا منیب الرحمٰن صاحب ښۀ پوهېږي زۀ خو هم هغه سېکولر پارټۍ سره تعلق لرم کومه چې د عالمانو د شهادتونو په رڼا کښې په خپله صوبه کښې د روژې او اختر اعلان کوي او هغه پرې د غصې نه سره لمبه کېږي.

د دغې غېر سرکاري عالمانو غونډې د میاشتې لیدو د شهادتونو اخستو دپاره په ګڼو لویو ښارونو کښې کښېني او د هغې ضلعې مشران لکه ډي سي او او ناظم وغېره هم موجود وي. دا ځل چې لکه د نور کله په شان روژه په یوه ورځ ونۀ کړې شوه نو د پښتونخوا حکومت مرکزي حکومت نه یوه غوښتنه وکړه چې روژه او اختر دې د سعودي عرب سره وتړلے شي لکه څنګه چې افغانستان او نور ملکونه کوي. خو انسان عاجز دے او بنده له خطا شته زمونږ د صوبائي حکومت نه یوه معمولي غونډې

سهو وشوه. پکار وه چې د دې مطالبې سره ئې مرکز ته دا هم وئیلې وې چې رویت هلال کمېټې دې برقرار وي او چې کوم عالمان پکښې دي هغوي له دې حسب معمول تنخواه او نور مراعات ورکولے شي. کۀ چرې داسې ئې کړې وې نو غالب ګمان ؤ چې دا د نور کله نه زیاته غوغا به نۀ وه جوړه شوې.

دا ځل مفتي صاحب د ډېرې غصې نه د غېرسرکاري عالمانو باره کښې هم ډېر څۀ وئیلي دي او د سعودي حکومت او د هغوي علماء ئې هم نۀ دي معاف کړي بلکې هغه جماتونه ئې هم بخښلي نۀ دي. د یو عالم شان سره دا قسم خبرې نۀ ښائي.



زۀ په یوه بله خبره هم ډېر حېرانېږم چې په مسجد قاسم علي خان کښې همېشه دغسې شهادتونه اخستې شي خو چونکې د اې این پي د حکومت دا کوشش ؤ چې په ټول ملک کښې په یوه ورځ اختر وکړے شي نو د هغوي دوه وزیران صاحبان هم قاسم علي خان جومات ته راغلل خو هغوي د هیچا نه شهادت نۀ دے اخستے بلکې لویو لویو عالمانو د خلقو نه شهادتونه واخستل او بیا د هغې په رڼا کښې حکومت د اختر اعلان وکړو. خو منیب الرحمٰن صاحب د نور چا نه زیاته اې این پي په نخښنه کړې ده او ټوله غصه ئې په هغوي ایستلې ده او وئیلي ئې دي چې دا یوه سېکولر پارټي ده دوي له په دیني خبرو کښې مداخلت پکار نۀ دے. حالانکې د منیب الرحمٰن صاحب په قول دې سېکولر پارټۍ چې کله په ملاکنډ کښې د خلقو په غوښتنه د نظام عدل د نفاذ اعلان وکړو نو ټولو عالمانو ئې مرسته کړې وه، ولې هغه وخت دا پارټي سېکولر نۀ وه.

خو لکه چې ما ووې د پښتونخوا د حکومت نه یوه معمولي سهو شوې ده نو دا خبره څۀ د دغې سهوې او څۀ دې پرائیوېټ چېنلو زیاته کړه ګڼي نو دلته داسې دوه روژې او دوه دوه اخترونه کله نۀ دي شوي. د پرائیوېټ چېنلو یوې بلې خبرې ته هم زما پام دے چې هغوي ته ثوک هم په فون په غوږ راتلے شي نو د هغۀ نه تجزیه نګار جوړوي او زما ګمان دے چې کۀ دا پرائیوېټ چېنلې لږې نورې زیاتې شوې نو د پاکستان هر بنده به تجزیه نګار او د یو نه یو کار ماهر جوړ شي او هر صحافي به سینئیر صحافي شي.

زمونږ د اختر په ورځ چې ماښام مولانا منیب الرحمٰن صاحب دوي میاشت ولیده نو پکار ده چې د وړوکي اختر د میاشتې د لیدو په خوشحالۍ کښې ئې په غصه او قهر کښې څۀ کمے راغلے وې خو افسوس چې د شوال د دویمې ورځې چې د دوي په خیال د وړومبۍ ورځې میاشت وه هم د دوي غصه او قهر سوړ نۀ کړو او دا ئې ووې چې:
جب چاند هوتا هے تو سب لوګ اسے دیکھ لیتے هین.
په ما د مولانا صاحب دا خبره کۀ هر څومره بده ده، ناښه ونۀ لګېده البته د ځان سره مې ووې چې د دۀ نه هم لکه د پښتونخوا د حکومت یوه معمولي سهو وشوه. پکار ده چې دا جمله ئې داسې وئیلې وې:
«جب چاند روشن هو جاتا هے تو سب لوګ اسے دیکھ لیتے هین»